عبدالرحمن فرقاني ۲۰۰۹/۰۹/۱۲م

# آیا دعطا په خوله کي د روسيی ژبه په خبرو نده راغلی ؟

د بن له کنفرانس نه نيولی تر نن مهاله پوري د افغانستان سياسي سرنوشت په روښانه توگه د بهرنيوو له خوا ټاکل کيږي , په افغانستان کي په تيرو شپيو سياسي ادارو کي د لوديځ هيوادونوسياسي موجوديت هر چا ته بربنډ دي آن تر دي چی دافغانستان په کابينه کي د هر هيواد ونده مالومه ده .

کوم مهال چی په افغانستان کي د ديموکراسی د اصل په پايله (انتخابات) کي د ښاغلي کرزي حکومت را منځ ته شو هغه مهال په امريکا کي د جمهوري خواهانو گوند چه د سختدريځه ډلو په وړاندي يی جگړيزه تگلاره خپله کړي وه حاکم و او د ښاغلي کرزي د اداري حمايت او پلوي يی کوله. خوکوم مهال چی په امريکا کي د ديموکراتانو گوند حاکم شود نړيواله کشالو په هکله د امريکا سياسي تگلاره بدله شوه, او په دي هکله امريکا ته د افغانستان کشاله ديره د اهميت وړ کشاله وه, په لومړني گام کي د امريکا نويی اداری د اوبامه په مشری د افغانستان له حکومت سره د راکړی ورکړی لپاره نوی استراتيژي اعلان کړه او ددي استراتيژی دپلي کولو لپاره د افغاستان او پاکستان لپاره خاص استاځي وټاکل شوو , خو د استراتيژي په موخوو کي داسی تکي هم وو چه د افغانستان د اداری او امريکا تر منځ د تاو تريخوالي لامل شول, د وخت په تيريدو سره د ښاغلي کرزي سياسي تيم په دي بريالی شو تر څو دا تاوتريخوالي پورته کړي او د امريکا د اداري ملگرتيا د پخوا په څير خپله کړي . خو څرنگه چی په مطبوعاتو کي راڅرگنده شوه دا تاوتريخوالي يو ځل بيا د اوسنيو ټول ټاکنو د پايلي په سر را ښکاره شو .

د ښاغلي کرزي سياسي ډلي په انتخاباتو کي د برياليتوب په موخه له داسي شخصيتونو سره هم تحالف غوره کړ چي د امريکا مخالف بلاك حسابيږي او غواړي امريکا د افغانستان په دلدل کي را ښکيل او خپل غچ ترينه واخلي او دروسيی هند ايران سياسي پيمان ته وفادار دي , روسيی دا تگلاره ځکه خپله کړي ده تر څو د افغانستان د سياسي کور له فيصلو څخه خبره وي , بل لوري ته روسيی د ټولټاکنو په ډگر کي هم خپله سياسي ډله وړاندي کړي وه چی په ټوله پياوړتيا سره يي د ښاغلي کرزي په وړاندي مقابله کوله او س مهال يي د ښاغلي کرزي اداره تر ښکاره گواښ لاندي نيولی ده تر څوخپل سياسي اهداف تر لاسه کړي , کيدي شي د عطا ورستي څرگندوني په دي چوکاټ کي راغلي وي , که د عطا تر شا کوم پياوړي سياسي لاس نه وی نوکيدي شوی چی دا راز څرگندوني يی د هغه حکومت په هکله کړي وی چی د يی په رسمي توگه والي تعين کړي دي , داسي اټکل کيږي چی د عطا په خوله کي د روسيی ژبه په خبرو راغلي ده ,په همدي هکله د امريکا د خاص استاځي هولبروك ورستي خود سرانه کتنه له عطا سره هم د ښاغلي کرزي اداري ته تر سوال لاندي ده.

د يو شمير سياستپوهانو په اند روسيه غواړي په افغانستان کي خپل بايللي سياسي عزت د لوديځ په وړاندي بيرته په ځاي کړي , چيرته چي لوديځ په سياسي او اقتصادي ډگرونو کي د نړي په کچه له کړاونو او ستونزو سره


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

لاس گريوان شوي دي , او د لوديځ جګړيز خوزښت په اسلامي نړي كي د را برسيره شوى اقتصادي بحران لامل دي، او په كومه كچه چى د لوديځ اقتصاد له كړاو سره مخ شوي په هغه كچه د روسيى اقتصاد پياوړي كيږي.

كه يولوري ته د افغانستان اوسني او راتلونكي اداره چى د ښاغلي كرزي په مشري به جوړه شي لكه څنګه چى اټكل كيږي د روسي پلوه سياسي ډلو تر ګواښ لاندي ده اووي به, بل لوري ته د امريكا له اوسني ادارى سره د تاو تريخوالي ګونګوځه هم شته, چى د دي اخ او ډب تر منځ د افغانستان راتلونكى ديره تياره ښكاري دا سربيره په هغو داخلي ستونزو چه د افغانستان حكومت په دي لړ كي ورسره لاس او ګريوان دي. د تعجب خبره دا ده چى په افغانستان كي بيوزله ملت له خپل سرنوشت له ټاكلو څخه بيګانه دي , آيا د افغانستان په ټولنه كي د ديموكراسي پلويان په دي هكله انديښمن ندي ؟

پاى



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همكارى دعوت مى نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائى و انشائى نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور كامل بما ارسال بداريد.